

05 FEBRUARY

# د څلورو بدو پېژندګلو

(For Islamic Brothers)

هفتيوار سنتن ڀري اجتماع ۾ ٿيڻ وارو
سُنَتَن ڀريو بيان

پهٔ 5 فروری، کال 2026ء (اِسلامي تاريخ: 16 شعبان شريف، کال 1447ھ) د پاکستان پهٔ هفته وارو اجتماعاتو کښې کيدونکے بيان

# د ځلورو بدو پېژندګلو

په دې بيان کښې به تاسو زده کړئ...

- د ځلورو مرغو ځلور بد خاصيتونه
- بد ترين اِنسان
- د هر يو پهٔ سر کښې واګې
- د شُحّ نه بچ اوسئ ولې چې دې مخکښني خلق هلاک کړل

پيشکش

اَلْمَدِيْنَةُ الْعِلْمِيَة

**I**slamic **R**esearch **C**enter

(شعبہ: بياناتِ دعوتِ اِسلامي)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖنَ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا رَسُوْلَ اللّٰه وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا حَبِیْبَ اللّٰه

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا نَبِیَّ اللّٰه وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا نُوْرَ اللّٰه

نَوَیْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِکَافِ (ترجمه: ما د سُنَّت اعتکاف نِیَّت وکړو)

## د دُرُودِ پاک فضیلت

یو بزرګ په ځنګل کښې سفر کولو چې شپه پرې راغله ، هر طرف ته ماتونکې ځناور ګرځیدل، هغوئي ویره محسوس کړه نو ناڅاپه ورته دا حدیثِ پاک وریاد شو: **خوک چې یو ځل دُرُود شریف لولي، الله پاک په هغه باندې 10 رحمتونه نازلوي-** هغوئي دُرُود شریف ولوستو او په یو ځائے کښې اودهٔ شو، ټوله شپه په سکون سره تیره شوه او یو ځناور هم ورله خوا له رانغلے- بیا (د دې حدیث په باره کښې) هغوئي وفرمائیل: چې ما څکه دُرُود شریف ولوستل چې یو په ځل دُرُود شریف لوستلو باندې د الله پاک 10 رحمتونه نازلیږي او کله چې زما نه د الله پاک 10 رحمتونه راتاؤشي نو بیا د یو ځناور څهٔ مجال دے چې هغه به ماته په اوچت سترګو وګوري- (1)

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** دا هر څهٔ زمونږ د ایمان په پوخ والي پسې دهٔ- تاسو د دې بزرګ رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د اِیمان پوخ والي ته وکتل، زمونږ حالت دا دے چې مونږ اَلْحَمْدُ لِلّٰه! مؤمِنان خو یو خو زمونږ پام د ظاهري اسبابو طرف ته ډیر وي- الله پاک دې زمونږ د اِیمان پوخ والے نصیب کړي-

1...سعادة الدارین، اللطیفة الثامنة والتسعون، صفحه:152 ملخصاً-

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د شعبان شريف مياشت يعني د درود او سلام مياشت روانه ده- سرکارِ غوثِ اعظم، شيخ عبد القادر جيلاني رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي: هوشَهۡرُالصَّلَاةِعَلَى النَّبِيِّ يعنې شعبان پهٔ جانِ جانان جانِ ايمان صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې د دُرُود لوستلو مياشت ده- (1)

تهول اِسلامي ورونړه دې د درود او سلام مياشت پهٔ پوره جذبې سره ونمانځي ، ❁ خپل کور والا دې راجمع کړي او ❁ پهٔ دفترونو، کارخانو، دوکانونو کښې دې خپل ملازمان او ❁ پهٔ جوماتونو کښې نـمونځ ګزار، د محلې والا راجمع کړئ او د درود او سلام محفلونه جوړ کړئ، پهٔ خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې ښهٔ ډېر درود او سلام وليږئ- الله پاک دې مونږ ته پهٔ نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې د ډېر ډېر دُرُودِ پاک وئيلو توفيق راعطا کړي- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيۡن صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم۔

صَلُّوۡا عَلَى الۡحَبِيۡب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د بيان اوريدلو نيتونه

پهٔ حديثِ پاک کښې دي: اِنَّمَا الۡاَعۡمَالُ بِالنِّيَّات د اعمالو دار و مدار پهٔ نيتونو دے- (2)

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! پهٔ ښو ښو نيتونو د عمل ثواب زياتيږي- راځئ چې د بيان اوريدو نه مخکښې څهٔ ښهٔ ښهٔ نِيَّتونه وکړئ: مَثَلاً ❁ د الله پاک د رضا د پاره به تهول بيان اورم ❁ پهٔ اَدب به کښينم ❁ ښهٔ پهٔ توجُّه به بيان اورم ❁ څهٔ چې واورم، د هغې به د يادولو، پخپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسولو کوشش کووم-

صَلُّوۡا عَلَى الۡحَبِيۡب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

1 ... غنية طالبى، مجلس فى فضل شهر شعبان، جلد:1، صفحه:342۔

2 ... بخارى، كتاب بدء الوحى، صفحه:65، حديث:1۔

# 4 مرغۍ او د الله پاک قُدرت

**روایت دے:** چې حضرت اِبراهیم خَلیلُ الله عَلَیْهِ السَّلَام د سمندر په غاړه باندې یو مړے ولیدلو- حالت یې دا وو چې کله به اوبه راتللې نو هغه وخت به مهیان راتلل او هغه مړے به یې خوړلو، چې اوبه به واپس لاړې نو ځناورو به هغه مړے خوړلو او کله چې به ځناورو وخوړو هغه به لاړل نو مرغو به په ټونګو ټونګو خوړلو- په دې منظر لیدو حضرت اِبراهیم عَلَیْهِ السَّلَام د الله پاک په بارګاه کښې عرض اوکړو: اے الله! بے شکه ته قادِر یې او زما یقین دے چې ته به د مرګ نه پس بیا ژوندي کول کوې خو زما تجسس دے چې کاش! زه دا منظر په خپلو سترګو ولیدے شم چې ته به د قیامت په ورځ دا اِنسان څنګه راجمع کوې، د کوم د وجود چې څه حصې ❁ د مهیانو په خېټو کښې ❁ څه د ځناورو په خېټو کښې ❁ او څه د مرغو ججورو ته لاړې- الله پاک حکم اوکړو: اے اِبراهیمه! ته 4 مرغۍ وساته او هغه د ځان سره ښه عادت کړه، کله چې ښه عادت شي نو هغه ذبح کړه، د ذبح کولو نه پس د هغوئي سرونه د ځان سره کېږده او د غوښې نه یې قیمه جوړه کړه او هغه په ګیر چاپېره مختلفو غرونو باندې لږه لږه کېږده او رازه ترې او بیا هغوئي ته اواز اوکړه بیا به مونږ تا ته د خپل قدرت کرشمه دروښایو-

حضرتِ ابراهیم عَلَیْهِ السَّلَام د الله پاک په حُکم باندې 4 مرغۍ (1): طاوس (2): بانګې (3): کونتره (4): او ټپوس وساتل- کله چې ورسره ښه عادت شو نو هغوئي دا څلور واړه ذبح کړل او د هغوئي سرونه یې د خپل ځان سره کړل او د غوښې نه یې د قیمې جوړولو نه پس په مختلفو غرونو باندې لږه لږه کېښودله- د دې نه پس حضرت اِبراهیم عَلَیْهِ السَّلَام هغوئي ته اوازونه شروع کړل: یَا اَیُّهَا الدِّیْك یعنې اے بانګې! یَا اَیَّتُهَا الْحَمَامَة یعنې اے کونترې! یَا اَیُّهَا النَّسْر یعنې اے ټپوسه! یَا اَیُّهَا الطَّاؤُس یعنې اے طاوسه! د هغوئي د رابللو سره

د څلور واړو مرغو قیمه یو ځائے کیدل شروع شوه، هډوکي د یو بل سره انښتل شروع شول او په لږ ساعت کښې څلور واړه مرغۍ تیارې شوې بیا هغه څلور واړه راوالوتلې او د خپلو خپلو سرونو سره پیوستې شوې او دانې یې خوړلې او په خپله خپله ژبه کښې یې چغار شروع کړو- حضرت اِبراهیم خلیلُ الله عَلَيْهِ السَّلَام چې کله دا خوندور منظر ولیدو نو د هغوئي زړه ته اِطمینان او قرار حاصل شو-

دا ټول مضمون الله پاک په دریمه سیپارهِ د سورۀ بقره په آیت نمبر: 260 کښې څۀ داسې بیان کړے دے:

| | |
|---|---|
| وَ اِذْ قَالَ اِبْرٰهٖمُ رَبِّ اَرِنِیْ كَیْفَ تُحْیِ الْمَوْتٰىؕ قَالَ اَوَ لَمْ تُؤْمِنْؕ قَالَ بَلٰى وَ لٰكِنْ لِّیَطْمَىٕنَّ قَلْبِیْؕ قَالَ فَخُذْ اَرْبَعَةً مِّنَ الطَّیْرِ فَصُرْهُنَّ اِلَیْكَ ثُمَّ اجْعَلْ عَلٰى كُلِّ جَبَلٍ مِّنْهُنَّ جُزْءًا ثُمَّ ادْعُهُنَّ یَاْتِیْنَكَ سَعْیًاؕ وَ اعْلَمْ اَنَّ اللّٰهَ عَزِیْزٌ حَكِیْمٌ۠ (۲۶۰) (پارہ:3، سورۂ بقرہ:260) | ترجمۂ کنزُالعِرفان: او چې کله ابراهیم عرض اوکړو: اے زما رَبـه! تهٔ ما ته را واښائې چې تهٔ به مړي څنګه ژوندي کوې؟ الله وفرمائیل: آیا تهٔ یقین نهٔ لرې؟ ابراهیم عرض اوکړو: یقین ولې نهٔ لرم خو دا (غواړم) چې زما زړهٔ ته قرار حاصل شي. الله وفرمائیل: نو پهٔ مرغو کښې یو څلور مرغۍ اونیسه بیا هغه ځان سره عادت کړه بیا د هغه ټولو یوه یوه ټکړه په هر غر باندې کیږده بیا هغوئي را اوبله نو هغوئي به ستا خوا ته پهٔ منډه منډه راشي او پوهه شه چې الله غالِب حِکمت والا دے- |

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! تاسو وکتل چې الله پاک حضرت اِبراهیم عَلَيْهِ السَّلَام ته د خپل قدرت څومره عظیم الشانه نظاره وښودله! بے شکه چې د الله پاک قُدرت کامِل دے، هغه چې څۀ غواړي کولے شي او هغه پۀ هر څیز باندې قُدرت لرونکے دے-

سب کا پیدا کرنے والا، میرا مولیٰ! میرا مولیٰ!
سب سے اَفضَل سب سے اَعلیٰ میرا مولیٰ! میرا مولیٰ!
(فنا ہونے والے)

جَگ کا خالِق، سب کا مالِک، وہ ہی باقِی، باقِی ھَالِک
سچّا مالِک، سچّا آقا، میرا مولیٰ! میرا مولیٰ!
عِزّت والا، حکمت والا، نعمت والا، بَرَکت والا
میرا پیارا، میرا آقا، میرا مولیٰ! میرا مولیٰ! (1)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د ځلورو مرغو ځلور بد خاصیتونه

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** حضرت اِبراهیم عَلَیْہِ السَّلَام چې د کومو ځلورو مرغو انتخاب اوکړو او بیا یـې هغه ذبح کړې، دا انتخاب هم د حکمت نه خالي نۀ وو، بلکې پۀ دې کښې د زدکړې د پاره درس دے- علمائے کرام فرمائي: دا ځلور مرغۍ (1): طاوس (2): بانګې (3):کونتره (4): او تپوس کومې چې حضرت اِبراهیم عَلَیْہِ السَّلَام ذبح کړې، پۀ هغې کښې 4 بد خاصیتونه دي، پۀ دې واقعه کښې اِشاره دا ده چې د خو پورې اِنسان د خپل ځان نه دا 4 بد خاصیتونه ختم نۀ کړي، د هُغې پورې د هغۀ د زړۀ نه پردې نشي لرې کیدے او نۀ هغه د یقین اعلیٰ منزل ته رسیدے شي- (2)

هُغه ځلور بد خاصیتونه څۀ دي؟ واورئ! ❀ **وړومبۍ مرغۍ: طاوس-** ډیره ښکلې مرغۍ ده، د دې وزرې ډیرې ښکلې وي او کیدے شي چې پۀ مرغو کښې د ټولو نه ښائسته هم دا دے خو پۀ دې کښې یوه بد خاصیت دا دے چې دا پۀ خپل حُسن او جمال باندې ډیر نازیږي ❀ **تپوس بالکل بدنامه مرغۍ ده**، دا مُرداره خوري او د دۀ بد خاصیت دا دے چې دا د حرص او لالچ نه ډک ده ❀ **پۀ بانګې کښې بد خاصیت دا دے** چې پۀ دۀ کښې شهوت

---

1...کتاب العقائد، صفحہ:13۔

2...تفسیرِ قشیری، پارہ:3، سورۂ بقرہ، زیرِ آیت:260، جز:1، جلد:1، صفحہ:166 بتغیر قلیل۔

(يعنې د نفساني خواهش) زيات وي ❁ **پۀ کونتره کښې بد خاصيت دا دے** چې دا پۀ خپل اوچت الوتلو باندې ډير تڪبر کوي -

علمائے کرامو ليکلي دي: که يو اِنسان دا څلور واړه عادتونه ذبح کړي يعنې ❁ د خپل ځان نه غرور بالکل ختم کړي ❁ د نفس پۀ خواهشاتو باندې قابو ومومي ❁ د دُنيا لالچ د زړۀ نه اوباسي ❁ که د عهدې او د منصب خواهش پۀ زړۀ کښې وي نو هغه ختم کړي اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم! د هغه به اوچتې درجې نصيب شي او زړۀ به يې د عِرفان د نُور نه ډک شي-[1]

د بده قسمته اوس دا څلور واړه بد خاصيتونه عام شوي دي- فخر، غرور، تڪبر، لالچ عام دے، مثلاً ❁ تا ته پته ده چې زۀ څوک يم؟ پۀ داسې وئيلو سره مخامخ ګس سپک ګڼلے کيږي ❁ که درې څلور روپۍ جيب ته راشي نو غريب پرې بد لګيدل شروع شي ❁ که څوک د وړې طبقې والا د ځان خوا کښې پۀ ناسته ووينې نو بد پرې لګي ❁ دغه شان د لالچ دا حال دے چې د يو څو روپو د پاره خلق پۀ ناپ تول کښې کمے کوي، پۀ اخستو او خرڅولو کښې د ټګۍ برګۍ نه کار اخلي، غلا ډاکه عامه ده، د حِرص او لالچ پۀ وجه د سود لين دين هم کيږي، دوکې هم کيږي، د دې حرص پۀ وجه نـمونځونه هم قضا کولے شي ❁ حُبِّ جاه يعنې د شهرت او د منصب د خواهش دا حال دے چې خلق د يو څو زرو ويوز زياتولو د پاره، د ناياب سيلفۍ اخستو پۀ تڪل کښې خپل ځان هم د خطرې سره مخ کوي، ماشومان دي که بوډاګان بلکې اوس خو د کورونو زنانۀ هم ريلز (***Reels***) وغيره جوړول شروع کړي دي- الله پاک دې زمونږ پۀ حال باندې رحم اوکړي، د معاشرې چې کوم حالت روان دے، بس هم دا دُعا کولے شو چې:

اے خاصۂ خاصانِ رُسُل وقتِ دُعا ہے
اُمّت پہ تری آ کے عجب وقت پڑا ہے

1... تفسير جمل، پارہ:3،سورۂ بقرۃ، زيرِ آيت: 260، جلد: 1، صفحه:329327 مفهوماً۔

فریاد ہے اے کشتی امت کے نگہباں
بیڑا یہ تباہی کے قریب آن لگا ہے

## (1): تکبّر د الله پاک خوښ نهٔ دے

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! هُغه ځلور بد خاصیتونه د کومو پهٔ ختمولو چې مونږ د الله پاک قُرب حاصلولے شو، پهٔ اخرت کښې کامیابېدے شو- پهٔ هغې کښې د ټولو نه وړومبے بد خاصیت دے: تکبر-

الله پاک فرمائي:

اِنَّهٗ لَا یُحِبُّ الْمُسْتَكْبِرِیْنَ ۝۲۳ (پارہ:14، سورۃ النحل:23)

ترجمهٔ کنزُ العِرفان: بے شکه هغه تکبر کوونکي نهٔ خوښوي-

د نبیانو نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: الله پاک تکبر کوونکي او پهٔ غرور سره ګرځېدونکي نهٔ خوښوي- (1)

## بد ترین اِنسان

حضرت حُذَیفه رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ فرمائي: یو ځل مونږ د محبوبِ ذِیشان صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره پهٔ یوه جنازه کښې شریک وو، نبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائیل: آیا زهٔ تاسو ته د الله پاک د بد ترین بنده پهٔ باره کښې اونه وایم؟ اوئې فرمائیل: هغه بد اَخلاقه او تکبر کوونکے دے- بیا یې وفرمائیل: آیا زهٔ تاسو ته د الله پاک د بهترین بنده پهٔ باره کښې اونه وایم- اوئې فرمائیل: هغه کمزورے ګڼلے کېدونکے، د زړو جامو والا اِنسان دے، که پهٔ څهٔ خبره باندې قَسم وخوري نو الله پاک د هغهٔ قَسم پوره کوي- (2)

---

1...کنزالعمال، کتاب الاخلاق، حرف الکاف الکبر والخیلاء، جز:3، صفحه:210، حدیث:7727 ملخصاً-

2...مسند احمد، مسند الانصار، جلد:9، صفحه:540، حدیث:24101 ملتقطاً-

## جَنَّت ته به داخليدے نۀ شي

**پۀ حديثِ پاک کښې اِرشاد شوي دي:** د چا پۀ زړۀ کښې چې د ووري د دانې همره (يعنې معمولې شان) هم تکبر وي هغه به جَنَّت ته نۀ داخليږي۔ [1]

## د لښکر سالار ته نصيحت

حضرت مُطَرِّف بن عبد الله رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه چې د يو لښکر سالار مُهلَّب پۀ غرور سره پۀ تللو وليدو نو اوئې فرمائيل: **اے د الله بنده! د الله او د هغۀ د رسول دا تګ خوښ نۀ دے**۔ هغه پۀ جواب کښې ووئيل: آيا تۀ ما نۀ پيژنې چې زۀ څوک يم! اوئې فرمائيل: ولې نه، زۀ تا ډير ښه پيژنم، ستا شروع د يو نا پاک څاڅکي نه وشوه، پۀ انجام کښې به تۀ بد بوداره مړے شې، د دې دواړو حالتونو ترمينځه تۀ پۀ خِيټه کښې ګند ګرځوې۔ پۀ دې اوريدو مُهلَّب وشرميدو او روان شو۔ [2]

## د هر يو پۀ سَر کښې واګې

**پۀ يو حديث شريف کښې دي:** د هر يو اِنسان پۀ سر کښې يوه واګې وي کومه چې د يوې فرښتے پۀ لاس کښې وي، کله چې اِنسان عاجزي کوي نو د هُغه واګو پۀ ذريعه هغۀ ته اوچت والے عطا کولے شي او فرښته وائي: **اوچت شه! الله پاک دې تا ته اوچت والے درعطا کړي**۔ که هغه خپل ځان پۀ (تکبر سره) هُم ېخپله اوچتوي نو هُغه فرښته هغه د زمکې طرف ښکته کوي او وائي: **ښکته شه! الله پاک دې تا ښکته کړي**۔ [3]

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** معلومه شوه چې تکبر اِنسان بربادونکې بيماري ده۔ ځکه مونږ له پکار دي چې د دې خراب مرض نه ځان بچ وساتو۔

---

1...مسلم، کتاب الايمان، باب تحريم الکبر و بيانه، صفحه:54، حديث:147۔

2...احياء علوم الدين، کتاب ذم الکبر والعجب، بيان ذم الاختيال...الخ، جلد:3، صفحه:416۔

3...کنز العمال، کتاب الاخلاق، باب التواضع، جز:3، جلد:2، صفحه:50، حديث:5741۔

## د تکبر نه د بچ کيدو د پاره

❁ د تکبر نقصانونو ته نظر کوئ! ❁ عاجزي اِختيار کړئ! ❁ په سلام کښې وړومبے والے کوئ! **په حديثِ پاک کښې دي:** په سلام کښې پهل (يعنې وړومبے والے) کونکے د تکبر نه بري دے۔ [1] ❁ خپل سامان پخپله اوچتوئ! **په حديثِ پاک کښې دي:** چا چې خپل سامان پخپله اوچت کړو هغه د تکبر نه ازاد شو۔ [2] ❁ کله چې هم په زړه کښې تکبر محسوس شي نو اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْم د يو ځل لوستلو نه پس د ګڅې اوګې طرف ته درې کرته تو تو اوکړئ! [3] اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيْم! د تکبر نه به په حفاظت کښې يے۔

## (2): د عهدې او د منصب خواهش

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** په ځغه ځلورو بدو خاصيتونو کښې دويم بد خاصيت دے: د عهدې او د منصب خواهش۔ نن سبا ډير خلق په خپل اوچت پرواز يعنې منصب او عهده پسې منډې وهونکي په نظر راځي، که چا ته څۀ لويه عهده يا منصب ميلاؤ شي نو په هغۀ کښې ډير غرور راپيدا شي۔ داسې خلقو ته د هغه خلقو د انجام نه عبرت حاصلول پکار دي د کومو د هلاکت سبب چې د هغوئي عهده او منصب جوړ شو۔

## د فرعون او د نمرود اَنجام

وګورئ چې فرعون ته عهده ميلاؤ شوه نو هغه تکبر اوکړو او د خُدايۍ دعوىٰ يې اوکړه، د 300 کالو پورې يې عياشي کوله خو اخر د هغۀ انجام دا شو چې هغه په دريابِ نيل کښې ډير په ذِلت سره ډوب شو او مړ شو۔ دغه شان چې کله نمرود ته عهده ميلاؤ

1...شعب الايمان، باب فی مقاربة ومواداة اہل الدين، جلد:6، صفحه:433، حديث:8786۔

2...شعب الايمان، باب فی حسن الخلق، جلد:6، صفحه:292، حديث:8201 ملخصاً۔

3...تکبر، صفحه:92۔

شوه نو هغهٔ هم د خُدايي دعوىٰ اوکړه، اخر هغه د يو ماشي پهٔ ذريعه هلاک کړے شو۔ (1)

## اخرت د چا دپاره دے---!!

پهٔ 20 سيپارهٔ، د سُورۂ قصص پهٔ آيت: 83 کښې اللّٰه پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| تِلْكَ الدَّارُ الْاٰخِرَةُ نَجْعَلُهَا لِلَّذِيْنَ لَا يُرِيْدُوْنَ عُلُوًّا فِي الْاَرْضِ وَلَا فَسَادًا ؕ (پارہ:20، سورۂ قصص:83) | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: دا د اخرت کور مونږه د هغه خلقو د پاره جوړوو کوم خلق چې پهٔ زمکه کښې تڪبر او فساد نهٔ غواړي۔ |

يعنې د اخرت کور جَنَّت د هغه چا د پاره دے څوک چې پهٔ دُنيا کښې غلبه او لوئي نهٔ غواړي، نهٔ پهٔ ګناه کولو پهٔ زمکه کښې فساد خوروي۔ (2) د مسلمانانو څلورم خليفه حضرت عليُ المُرتضىٰ شيرِ خُدا رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فرمائي: کوم اِنسان چې دا غواړي چې زما د پيزار تسمه دې د نورو د تسمې نه ښه وي، هغه هم د دې آيت پهٔ حڪم کښې داخِل دے۔ (3)

اَللّٰهُ اَکْبَر! د پيزار تسمه خو لرې خبره ده دلته خو پهٔ هره يوه خبره کښې مقابله کولے شي، زما پيزار دې داسې وي چې خلق يې وويني نو واه واه اوکړي، زما جامې دې ښې وي، زما د کور پهٔ شان کور دې د چا هم نهٔ وي، زما د ګاډي پهٔ شان ګاډے دې د چا سره هم نهٔ وي، غرض دا چې پهٔ هر يو څيز کښې مقابله کولے شي او د دې مقابلې مقصد څهٔ وي؟ حُبِّ جاهِ (يعنې د شهرت او د منصب د خواهش)، مشهورتيا، عزت چې خلق ما وويني، زما څيزونه وويني نو واه واه اوکړي۔

---

1...الحديقة الندية، المبحث الثانى من المباحث الخمسة...الخ، جلد:1، صفحه:549 ملتقطاً۔

2...حاشيه صاوی على تفسير الجلالين، پارہ:20، سورۂ قصص، تحت الآية:83، جلد:2، صفحه:304۔

3...تفسير در منثور، پارہ:20، سورۂ قصص، تحت الآية:83، جلد:6، صفحه:444۔

اے د خوږ نبي صَلَّی اللهُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عاشقانو! صحابهٔ کرام رَضِیَ اللهُ عَنْهُم زمونږه آئیډیل (*Ideal*) دي، زمونږ د پاره بهترینې نمونې دي، د هغوئي به هم پهٔ خپل مینځ کښې مقابلې وې، هغوئي به هم د يو بل نه د مخکښې کيدو کوشش کولو- خو پهٔ کومو معاملو کښې ❀ پهٔ نفلي روژو کښې ❀ د الله پاک پهٔ لار کښې پهٔ خرچ کولو کښې ❀ پهٔ عبادتونو کښې، لکه څنګه چې د مسلمانانو دويم خليفه حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللهُ عَنْهُ پهٔ غزوه تَبوک کښې د کور نيم مال د خيرات کولو د پاره راوړو نو د مسلمانانو وړومبي خليفه حضرت اَبُو بکر صِدِّيق رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د کور ټول مال راوړو- [1] ❀ پهٔ صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللهُ عَنْهُم کښې به د پلار او ځوي پهٔ مينځ کښې پهٔ جهاد کښې د شرکت کولو د پاره بحث کيدلو، هر يو به وئيل چې زهٔ به شرکت کووم تهٔ پهٔ کور کښې پاتې شه، د دې پورې چې معذوره صحابهٔ کرام رَضِیَ اللهُ عَنْهُم به هم د الله پاک پهٔ لاره کښې د شهادت د پاره نا قلاره اوسيدل- [2] د غريبئ او د بے وسئ پهٔ وجه به پهٔ جهاد کښې شرکت نهٔ کوونکي ژړيدل- يو صحابي رَضِیَ اللهُ عَنْهُ که به چرې د نيمې شپې عبادت کولو نو بَل به ټوله شپه، که يو به د قرآنِ کريم دريمه حصه تلاوت کولو نو بَل به د نيم قرآنِ کريم تلاوت کولو- [3]

کاش چې مونږ د دُنيا نهٔ بلکې د اخرت طلب ګاران جوړ شو، پهٔ دُنيا کښې که عزت ميلاؤ هم شي، شهرت نصيب هم شي خو که د دې پهٔ بدل کښې اخرت لاړو نو څهٔ فائده، دلته هر څهٔ فاني دي، د يو څو ورځو لوبه ده، آه! د قيامت هغه وحشت ناکه ورځ---!! مخکښيني وروستني به ټول حاضر وي، قهر سره به مخامخ کيدل وي، هغه وخت که چرې اعمال نامه کولاو کړے شوه، پهٔ هغې کښې تش ګناهونه راوختل نو هغه وخت چې به

1...شرح الزرقانی، کتاب المغازی، ثم غزوۃ تبوک، جلد:4، صفحه:69-

2...مدارج النبوۃ، صحابه در جنگ احد، جز:2، صفحه:124-

3...تفسیر صراط الجنان، پاره:2، سورۂ بقرۃ، تحت الآیۃ:148، جلد:1، صفحه:237-

کوم شرم وي، د هغه شرم او پښېمانتيا سره به څهٔ کوو--!! آه! هغه وخت به چرته پټېږو--!! کاش چې مونږ د دُنيا نهٔ بلکې د اخرت غوښتونکي جوړ شو-

## (3): د نفس د خواهشاتو تابعداري

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! دريم بد خاصيت دے: **د نفس د خواهشاتو تابعداري**- د فتنو نه پهٔ دې ډک دور کښې د نفس خواهشات قابو کول هم ډېر ضروري دي، ځکه دا ډېر غټ غټ خلق هلاک او تباه کوي- پهٔ تاريخ کښې داسې ډېرې واقعې ميلاوېږي چې کوم خلق به ډېر عبادت ګزار منلے کيدل د هغوئي سره د نفس خواهشاتو داسې لوبې اوکړې چې د هغوئي نيک اعمال برباد شول او هغوئي د کوم ځائے نه کوم ځائے ته ورسيدل-

## بد نصيبه عابِد

پهٔ بني اسرائيلو کښې يو عابِد (عبادت ګزار) وو، د هغهٔ دعاګاني به نهٔ رد کيدلې، خلقو به خپل مريضان هغهٔ له راوستل او هغهٔ به چې دُعا کوله نو صحت مند کيدل به- يو ځل د عِلاج د پاره د بادشاه لور د هغهٔ پهٔ خوا کښې پرېښودے شوه، هغهٔ يې عِلاج کولو د دې پورې چې شيطان د هغهٔ پهٔ زړهٔ کښې بدي ورواچوله او **نهٔ کولو والا کار وشو**- شيطان پهٔ اِنساني شکل کښې د بادشاه خوا لا ړو او هغه يې د ټولې واقعې نه خبر کړو او د قبر پهٔ باره کښې يې ورته هم ووئيل، بادشاه چې زمکه وکنستله نو مړے وموندے شو- بيا چې کله د سزا پهٔ توګه هغه عابِد له پانسي ورکولے کيده نو شيطان د هغهٔ خوا له راغلو او اوئې وئيل: **زهٔ تا ته د دې نه نجات درکولے شم خو شرط دا دے چې تهٔ ما ته سجده اوکړې**- عابد چې شيطان ته سجده اوکړه نو شيطان ښه پهٔ کړس کړس وخاندل او اوئې وئيل: زما ستا سره هيڅ تعلق نشته- **بيا هغه بد نصيبه عابِد پهٔ دار کړے شو**- [1]

1 ...تنبيه الغافلين، باب عداوة الشيطان ومعرفة مکايده، صفحه:326 ملخصاً-

غور اوکړئ چې د نفس د خواهش د نهٔ قابو کولو پهٔ وجه بد نصيبه عابِد خپله دُنيا او اخرت دواړه برباد کړل- د بده مرغه نن سبا حالات دومره خراب شوي دي چې که څوک پهٔ دې وخت کښې د ګناه نه بچ دے نو کيدے شي چې هغه ته د ګناه کولو موقع نهٔ وي ميلاؤ شوې، يا هغه د دې خبرې نه ويرېږي چې هسې نه بے عزتي يې اونهٔ شي که چرې بالکل پوره ازادي ورکړے شي نو مشکله ده که څوک د ګناه نه بچ شي- لکه څنګه چې نن سبا پهٔ محلو پهٔ کوڅو کښې ښکاره د ګډاګانو او سندرو محفلونه کيږي داسې ښکاري لکه چې د ګناهونو ازادي ورته ميلاؤ شوې ده- پهٔ موټرو کښې سفر کوونکي د سندرو پهٔ اوريدو پهٔ مستۍ کښې خوزيږي او سکوټر او سائيکل چلوونکي د سندرو د اواز پهٔ اوريدو خپل سرونه خوزول شروع کړي- داسې نازک وخت راغلے دے چې هلکان او جينکۍ يو ځائے ګډيږي او د سندرو او د سازونو داسې پروګرامونه کولے شي چې پهٔ هغې کښې څهٔ کيږي هغه پهٔ الفاظو کښې بيانول مناسب نهٔ دي- الله پاک دې زمونږ پهٔ حال باندې رحم اوکړي- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم۔

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## (4): حِرص او لالچ

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! څلورمه بيماري د دُنيا محبت او حِرص او لالچ دے- الله پاک پهٔ قرآنِ پاک کښې فرمائي:

وَمَنْ يُّوْقَ شُحَّ نَفْسِهٖ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ۚ﴿۹﴾ (پاره:28، سورهٔ حشر:9)

ترجمهٔ کنزُالعِرفان: او څوک چې د خپل نفس د لالچ نه بچ کړے شو نو هُم هغه خلق کامياب دي-

د شُح مطلب دے چې اِنسان کله د مال پهٔ محبت کښې دومره پريوځي چې بيا هغه پهٔ

حلالو او حرامو کښې فرق نۀ کوي، يعنې دې درجې ته پۀ راتلو د مال محبت د حِرص پۀ ځائے پۀ هَوس کښې بدليږي، بيا اِنسان غواړي چې بس مال راشي، د هغې د پاره د سود لين دين شروع کړي، رشوت هم اخلي، پۀ ناپ تول کښې کمے هم کوي، نورو له دوکه هم ورکوي، غرض دا چې د هغۀ بس مال پکار وي، که د حرامې ذريعې نه راځي او که د حلالې ذريعې نه، پۀ دې د هغۀ هيڅ پروا نۀ وي- پۀ زړۀ کښې چې د مال محبت دومره زيات شي نو دې ته **شُح** وئيلے شي- [1]

## د شُح نه ځان ساتئ ولې چې دې مخکښيني خلق هلاک کړل

د صحابي اِبنِ صحابي حضرت عبد الله بن عمر رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُما نه روايت دے، د الله پاک اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د شُح (يعني د مال د ډېر محبت) نه بچ اوسئ! بے شکه ستاسو نه مخکښني خلق دې هلاک کړل ❀ شُح (يعني د مال ډېر محبت) هغوئي پۀ رشتو ماتولو راپارول نو هغوئي رشتې پرېښودې ❀ دې هغوئي پۀ کنجوسی راپارول نو هغوئي کنجوسي اوکړه ❀ د مال ډېر محبت هغوئي پۀ ګناهونو باندې راپارول نو هغوئي د ګناهونو ډنډې ته پرېوتول- [2] د **مُسلم شريف** پۀ روايت کښې دي: شُح (يعني د مال ډېر محبت) ستاسو نه مخکښيني پۀ قتلونو باندې راپارول هغوئي قتلونه اوکړل او حرام يـې حلال ګرځول شروع کړل- [3]

## د مال جمع کوونکي او په شمار ساتونکي مذمت

پۀ 30 سيپارهِ سورۀ هُمَزَه، آيت: 2 نه 9 پورې الله پاک اِرشاد فرمائي:

1...مجموع رسائل ابن رجب حنبلی، جلد:1، صفحه:69 بتغير قليل-

2...مسند احمد، جلد:3، صفحه:528، حديث:6643 ملتقطاً-

3...مسلم، کتاب البر والصلة، صفحه:1000، حديث:2578-

الَّذِیْ جَمَعَ مَالًا وَّ عَدَّدَهٗ ۙ﴿۲﴾ یَحْسَبُ اَنَّ مَالَهٗۤ اَخْلَدَهٗ ۚ﴿۳﴾ كَلَّا لَیُنْۢبَذَنَّ فِی الْحُطَمَةِ ۫ۖ﴿۴﴾ وَ مَاۤ اَدْرٰىكَ مَا الْحُطَمَةُ ؕ﴿۵﴾ نَارُ اللّٰهِ الْمُوْقَدَةُ ۙ﴿۶﴾ الَّتِیْ تَطَّلِعُ عَلَى الْاَفْـٕدَةِ ؕ﴿۷﴾ اِنَّهَا عَلَیْهِمْ مُّؤْصَدَةٌ ۙ﴿۸﴾ فِیْ عَمَدٍ مُّمَدَّدَةٍ۠ ﴿۹﴾

(پارہ:30، سورۂ ہُمَزَہ:2 تا 9)

ترجمۂ کنزُالعِرفان: چا چې مال جمع کړو او شمیرلے یـې وساتلو- هغه دا ګڼي چې د هغۀ مال به هغه (په دُنیا کښې) همیشه ساتي- هیڅ کله نۀ، هغه به ضرور چوره چوره کوونکي ته وغورځولے شي- او تا ته څۀ معلومه چې هغه چوره چوره کوونکے څۀ دے؟- هغه د الله لـمبه کړے شوے وور دے- هُغه چې د زړونو نه به راتاؤ شي- بے شکه هغه به په هغوئي رابند کړے شي- په اوږدو اوږدو ستنو کښې-

د دې آیتونو د لاندې په **تفسیر صراطُ الـجنان** کښې چې کوم وضاحت بیان کړے شوے دے، د هغې خُلاصه څۀ داسې ده چې هُغه کَس کوم چې د حرامو ذریعو نه مال راجمع کوي، د خپل مال نه شرعي حقونه نۀ ادا کوي، په مال جمع کولو کښې داسې مشغول وي چې اخرت پرې هم هیر کړي، داسې کَس آیا دا ګڼي چې هغه به په دُنیا کښې همیشه اوسیږي ، آیا د هغۀ مال به هغه د مرګ نه بچ کړے شي چې د هغې په باور باندې دا د مال په محبت کښې مست وي، د نیکو اعمالو طرف ته نۀ مائله کیږي؟ نا--- داسې به هیڅکله هم نۀ کیږي بلکې هغه به ضرور د دوزخ چوره چوره کوونکې طبقې ته وغورځولے شي، چرته چې به وور د هغۀ هډوکي او پوښتۍ ماتې کړي او تاسو ته څۀ معلومه ده چې هُغه چوره چوره کوونکے څۀ شے دے؟ هغه د الله پاک بَل کړے شوے وور دے کوم چې چرې هم نۀ یخیږي، دا وور به د وجود ظاهري حصه هم سوزوي او وجود ته دننه به هم رسي او زړۀ به ورله هم سوزوي، بے شکه د مال داسې حرص کوونکي به وور ته غورځولے شي او دروازې به ورپسې بندولے شي- (1)

1...تفسیر صراط الجنان، پارہ:30، سورۂ همزه، زیرِ آیت:92، جلد:10، صفحه:825۔

اَلْاَمَانُ وَالْحَفِیْظ !اَلْاَمَانُ وَالْحَفِیْظ...!!

بھائیو!ہر دَم بچو تم حُبِّ جاہ و مال سے | ہر گھڑی چوکس رہو شیطان کی اِس چال سے
مالداروں کی خوشامد میں ہلاکت ہے بڑی | تُو گناہوں میں پڑے گا آئے گی شامت تِری
کان دَھر کے سُن! نہ بننا تُو حَرِیصِ مال و زَر! | کر قناعت اِختیار اے بھائی تھوڑے رِزق پر[1]

## مال مخکښې اولیږه---!!

پۀ حدیثِ پاک کښې دي: یو ځل یو کَس پۀ بارګاهِ رسالت کښې حاضر شو، عرض یې اوکړو: یا رسولَ الله صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! پۀ ما څۀ شوي دي چې زۀ مرګ نۀ خوښووم (یعنې زما زړۀ د دنیا طرف ته مائل دے، زۀ پۀ خپل زړۀ کښې د اخرت طرف ته مائل کېدل کم ساتم او مرګ کوم چې جَنَّت ته د رسیدو لاره ده، زما دا مرګ خوښ نۀ دے)- سرکارِ عالي وقار، مکي مدني تاجدار صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائیل: آیا ستاسو سره مال شته؟ عرض یې اوکړو: آؤ جي! اوئې فرمائیل: خپل مال (د اخرت د پاره د صدقې او خیرات کولو سره) وړاندې اولیږه! ځکه چې د اِنسان زړۀ د هغۀ د مال سره وي، که دا خپل مال وړاندې اولیږي (یعنې صدقه او خیرات یې کړي) نو د هغۀ سره میلاویدل غواړي او که مال وروستو پریږدي نو د هغۀ سره وروستو پاتې کېدل غواړي-[2]

ہمارے دل سے نکل جائے الفتِ دنیا | دے دل میں عشقِ مُحَمَّد مرے رچا یاربّ![3]

معلومه شوه چې پۀ صدقه کولو مال د اخرت د پاره د ذخیره کولو پۀ برکت د زړۀ نه د دُنیا محبت ختمیږي او د الله او د رسول صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم محبت نصیب کیږي، ځکه د صدقې او د خیرات کولو عادت جوړ کړئ!

---

1...وسائل بخشش، صفحه:698۔

2...الزہد لابن المبارک، جز:5، صفحه:224، حدیث:634۔

3...وسائل بخشش، صفحه:82۔

## د صدقې فضيلتونه

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د صدقې کولو ډېر فضيلتونه دي- د حديثونو مبارکو مطابق: ❁ صدقه د دوزخ د وور نه بچ کول کوي-(1) ❁ صدقه د الله پاک غضب ختموي او بد مرګ لرې کوي(2) ❁ صدقه کوونکے به د قيامت په ورځ د خپلې صدقې په سورې کښې وي(3) ❁ صدقه د بدئ 70 دروازې بندوي(4) ❁ صدقه د قبر د ګرمئ نه بچ کول کوي(5) ❁ د مسلمان صدقه د هغهٔ عمر زياتوي(6) ❁ صدقه 70 قِسمه بلاګانې منع کوي-(7) ❁ د اخري نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: په صدقه ورکولو کښې تادي کوئ ولې چې بلا د صدقې نه نهٔ شي اوړيدے(8)

## د عطياتو ترغيب

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! ستاسو خپل دِيني تنظيم دعوتِ اِسلامي، دا وخت د اتياؤ [80] نه په زياتو شعبو کښې د دِين په خدمت کښې مصروف دے- اَلْحَمْدُلِلّٰه! ❁ د کنزُ الـمدارس بورډ (*Kanzul Madrasah Board*) په نوم د دعوتِ اِسلامي خپل تعلمي بورډ دے ❁ په زرګونو جامعات او مدارسُ الـمدينه د هلکانو او جينکو (*Boys & Girls*) د پاره قائم دي، په کومو کښې چې د حفظ او ناظرې، عالِم کورس (درسِ نظامي)، مختلف تَخَصُّصَات (*Specialization*)، فرض علوم کورسز کولے شي ❁ د جامعات او

---

1...معجم کبير، جلد:10، صفحه:409، حديث:20584۔
2...ترمذی، کتاب الزکاة، صفحه:189، حديث:664۔
3...سننِ کبری للبيهقی، کتاب الزکاة، باب التحريض علی...الخ، جلد:4، صفحه:379، حديث:7751۔
4...معجمِ کبير، جلد:3، صفحه:148، حديث:4276۔
5...شُعَبُ الْاِيمان، جلد:3، صفحه:212، حديث:3347۔
6...معجمِ کبير، جلد:6، صفحه:440، حديث:13508۔
7...تاريخِ بغداد، جلد:8، صفحه:204۔
8...مشکاة المصابيح، کتاب الزکاة، باب الانفاق و کراهيه...الخ، جز:1، جلد:1، صفحه:359، حديث:1887۔

مدارسُ الـمدينه (بوائز اينډ ګرلز) د طالبِ علمانو شميره پۀ لکونو کښې ده ❁ د زيات عمر اِسلامي وروڼو او خوئيندو ته د قرآنِ کريم تعليم ورکولو د پاره پۀ زرګونو مدارس الـمدينه بالغان او بالغات جوړ کړے شوي دي پۀ کومو کښې چې د لوستونکو اِسلامي وروڼو او خوئيندو شميره پۀ لکونو کښې ده ❁ د فيضان آن لائن اکيډمی (*Faizan Online Academy*) پۀ ذريعه دِيني تعليم ورکړے کيږي ❁ د دِيني او شرعي لارښودنې د پاره **دار الافتاء اهلسنت** جوړ کړے شوي دي ❁ د **الـمدينةُ العلميه** ***(Islamic Research Center)*** پۀ ذريعه پۀ ديني لټريچر باندې تحقيقي کار کيږي، ❁ د دِيني لټريچر د چاپ کولو د پاره چاپ کوونکي اداره **الـمدينةُ العلميه** جوړه کړے شوي ده ❁ پۀ ټوله دُنيا کښې د دِيني کارونو کولو د پاره د دعوتِ اِسلامي پوره تنظيمي سيټ اپ دے، د ذيلي حلقے نه واخله د د مرکزي مجلسِ شوریٰ پورې يو نظام جوړ دے، ښار پۀ ښار، کلي پۀ کلي ذمه داران موجود دي ❁ د عاشقانِ رسول پۀ تربيت کولو هغوئي د دِيني کارونو د پاره ملک او بهر ملکونو ته ليږلے کيږي، هغوئي ته باقاعده تنخوا ګانې ورکړے کيږي او هغوئي فارِغ البَال (يعنې د ګټې وَټې نه پۀ بے پروا کيدو سره) د دِين خِدمت کوي ❁ د ميډيا پۀ مختلف پليټ فارمز باندې هم د دِين د خِدمت سلسله روانه ده ❁ پۀ پرنټ ميډيا (کښې د ډيرو کتابونو او رسالو سره سره د ماهنامه فيضانِ مدينه د چاپ کولو سلسله جاري ده کومه چې دا وخت د دُنيا پۀ 7 ژبو کښې د ټولو نه زياته چاپ کيدونکي ماهنامه ده) ❁ پۀ سوشل ميډيا (مثلاً، يوټيوب ***(YouTube)***، فيس بُک ***(Facebook)***، انسټا ګرام ***(Instagram)*** وغيره) باندې په مجموعي توګه 7 کروړه فالورز (***Followers***) دي او د ويوز شميره پۀ بلينز (***Billions***) کښې ده ❁ د دې نه علاوه د مَدَني چينل، اُردو، انګلش، بنګله ژبو کښې، کِډز (***Kids***) مَدَني چينل، د مشرانو د پاره مَدَني چينل او د عربۍ د ويب چينل پۀ ذريعه د دِين اِسلام خدمت کولے شي۔

تاسو هم د دِین د خِدمت په دې کار کښې خپله حصه شامله کړئ! خپل عطیات دعوتِ اِسلامي له ورکړئ، ستاسو چنده یعني ډونیشن په هرقِسمه جائز، دیني، اِصلاحي، فلاحي، روحاني، د خیر ښیګړې، په ښو او د امدن زیاتولو په جائز او محفوظو کارونو کښې لګیدے شي د پاره د دې چې زیاتې خرچې پرې پوره کړے شي۔

دعوتِ اسلامی کی قیّوم، سارے جہاں میں مچ جائے دُھوم
اس پہ فِدا ہو بچہ بچہ یا اللہ مری جھولی بھر دے

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د شعبان شریف د روژو فضیلت

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د **شعبان شریف** میاشت روانه ده۔ دا میاشت ډیره د برکتونو، عظمتونو والا ده، خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به په دې میاشت کښې په کثرت سره روژې نیولې۔ د مسلمانانو خوږه مور جانه حضرت عائشه صِدِّیقه طیبه طاهره رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهَا فرمائي: خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ما د **شعبان شریف** نه علاوه په بله میاشت کښې په دومره زیاتو روژو نیولے نۀ دے لیدلے، نبي کریم صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د یو څو ورځو نه علاوه د میاشتې ټولې روژې نیولې۔ [1] ❁ یو ځل د رسول الله صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه پوښتنه وشوه: د رمضان نه پس کومې روژې افضلې دي؟ اوئې فرمائیل: **د رمضان د تعظیم د پاره د شعبان روژې نیول۔** [2]

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د عاشقانِ رسول د دِیني تنظیم دعوتِ اِسلامي په دِیني ماحول کښې په **شعبان شریف** کښې هم د روژو سپرلے وي، په مختلفو ځایونو

---

1...ترمذی، کتاب:الصوم، باب:ماجاء فی وصال شعبان برمضان، صفحه:206، حدیث:736۔

2...ترمذی، کتاب: زکوٰۃ، باب: فضیلتِ صدقه، صفحه:189، حدیث:663۔

کښې د پېشمني اجتماعات هم کولے شي، مَاشَآءَ الله! ډېر عاشقانِ رسول پهٔ کثرت سره روژې نيسي او پهٔ مسلسل روژو نيولو سره رمضان شريف سره ميلاؤيږي- تاسو هم د دعوتِ اِسلامي د دِيني ماحول سره مضبوط تړون پيدا کړئ اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! د مِعراج د فيضان سره سره به مو د شعبان شريف او د رمضان شريف بنه ډېر برکتونه نصيب شي، الله پاک دې د عمل کولو توفيق راعطا کړي- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د اِعتکاف ترغيب

اَلْحَمْدُ لِله! د رَمَضَانُ الْمُبَارَک مياشت هم تشريف راوړونکې ده- رَمَضَانُ الْمُبَارَک ډېره د برکتونو والا مياشت، د رحمان مياشت، د قرآنِ پاک د نازليدو مياشت او د بخښنې مياشت ده-

| | |
|---|---|
| عَجِّلْ عَجِّلْ يَا رمضان | جان مِری تجھ پر قربان |
| آ بھی جا ماہِ سُبْحٰن | جلدی جلدی آ رمضان |
| جب بھی آتا ہے رمضان | جان میں آجاتی ہے جان |
| خوب ہے رمضاں کی بھی شان | اِس میں اُترا ہے قرآن |
| مجھ کو مدینے میں رمضان | کاش! میسر ہو رحمٰن |
| آجا آ بھی جا رمضان | تجھ پہ فِدا عطّارؔ کی جان |

الله پاک دې زمونږ د رَمَضَانُ الْمُبَارَک د مياشتې ليدل، پهٔ دې کښې د بنه ډېرو روژو د نيولو، د بنه ډېر عبادت کولو توفيق نصيب کړي- د رَمَضَانُ الْمُبَارَک د مياشتې يو ډېر اهم عبادت اِعتکاف هم دے- نفلي اِعتکاف خو هر وخت کيدے شي خو کوم اِعتکاف چې سُنَّتِ مؤکده دے، هغه هُم پهٔ رَمَضَانُ الْمُبَارَک شريف کښې کيږي- د خوږ آقا و

مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه د ټول رَمَـضَانُ الـمُبَارَک شريف اِعتکاف کول هم ثابت دي او د اخرىٰ عشرې اِعتکاف خو زمونږه د آقا و مولىٰ، تاجدارِ انبيا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ډير خوښ وو، نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د اخرىٰ عشرې د اِعتکاف ډير اهتمام فرمائيلو- د دې پورې چې يو ځل يــې په څۀ وجه په رَمَـضَانُ الـمُبَارَک شريف کښې اِعتکاف اونکړے شو نو رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په شوال کښې اِعتکاف وفرمائيلو- (1)

## د اِعتکاف فضيلتونه

❁ د مسلمانانو د خوږې مور جانې حضرت عائشه صِدِّيقه، طيبه طاهره رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه روايت دے: مَنْ اِعْتَكَفَ اِيْمَاناً وَّاِحْتِسَابًا غُفِرَ لَهٗ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهٖ يعني چا چې د ايمان سره او د ثواب حاصلولو په نيت اِعتکاف اوکړو د هغۀ مخکښني ګناهونه به اوبخښلے شي- (2) ❁ په يو بل روايت کښې دي: چا چې په رَمَـضَانُ الـمُبَارَک شريف کښې 10 ورځې اِعتکاف اوکړو هغه داسې دے لکه چې دوه حجونه او دوه عمرې يــې اوکړې- (3)

## د اِجتماعي سُنَّت اِعتکاف ترغيب

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د عاشقانِ رسول ديني تنظيم په ټوله دنيا کښې د نيکۍ دعوت عام کولو کښې مصروف دے، د رَمَضَانُ الْمُبَارَک د فيضان مونډلو، د ګناهونو نه د بچ کيدو او د نيک نـمونځ ګزاره جوړيدو د پاره د عاشقانِ رسول د ديني تحريک دعوتِ اِسلامي د ديني ماحول سره خپل ترون نور هم مضبوط کړئ- اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د دعوتِ اِسلامي د اِنتظام لاندې په ټوله دنيا کښې په زرګونو ځايونو کښې اجتماعي

---

1... بخاری، کتاب الاعتکاف، باب الاعتکاف فی الشوال، صفحه:533، حديث:2041۔

2... جَامِع صغير، صفحه:516، حديث:8480۔

3... جَامِع صغير، صفحه:516، حديث:8479۔

اعتکاف هم کولے شي، تاسو هم کوشش اوکړئ! د دې سره سره د ټولې میاشتې اِعتکاف هم کولے شي- دا ځل به پۀ ټول پاکستان کښې پۀ 29 ځایونو او پۀ ټوله دُنیا کښې پۀ 130 ځایونو کښې د ټولې میاشتې اِعتکاف کولے شي- تاسو هم د ټولې میاشتې د اعتکاف سعادت حاصل کړئ! بلکې پۀ عالمي مَدَني مرکز فیضانِ مدینه (کراچۍ) کښې اعتکاف اوکړئ! چې هلته به مو د شیخِ طریقت، امیرِ اهلِسُنَّت مولانا محمد الیاس قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د وخت د یو کامِلي وَلي سره د اعتکاف کولو سعادت نصیب شي نو د دې برکتونه به هُم جدا وي- اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم! پۀ رَمَضَانُ الْمُبَارَک کښې به د ګناهونو نه د بچ کیدو، د نیکو کولو، د نفل عبادتونو شوق زیاتیدو سره سره ډیر عِلمِ دِین هم زده کړئ-

## د دعوتِ اِسلامي د یوې شعبې تعارف: د کفن دفن شعبه

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! دا وخت د مسلمانانو حالت ډیر عجیبه دے- د عِلمِ دِین نه د محرومۍ پۀ وجه اوس حالت داسې شوے دے چې که پۀ یو کور کښې مړے وشي نو که کور والا وي او که بهر والا خوک هم مړي ته د غسل ورکولو د پاره تیار نۀ وي- حالانکې د دې هم ډیر فضیلت دے پۀ حدیثِ پاک کښې راغلي دي: څوک چې مړے ولمبوي، کفن ورته واغوندي، خوشبوئي پرې ولګوي، جنازه یې اوچته کړي، نمونځ پرې اوکړي او کوم جسماني عیب چې پۀ نظر راشي هغه پټ کړي، هغه د ګناهونو نه هم داسې پاکیږي لکه څنګه چې د پیدائش پۀ ورځ وو- (1)

پۀ داسې موقع باندې د غسل د پاره راغوښتلے شوي خلق هم عام طور د سُنَّتو او د ادابو نه خبر نۀ وي، کوم چې ډیر پۀ ناترسۍ سره مړي له غسل ورکوي - د اخري نبي، مکي مَدَني صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د غم زیلې اُمت د خیر خواهۍ د پاره دعوتِ اِسلامي یوه شعبه کفن دفن جوړه کړې ده-

[1]... ابن ماجه، کتاب الجنائز، باب ماجاء فی غسل المیت، صفحه:237 حدیث:1462۔

د دې شعبې په ذريعه د مسلمانانو په ډېرو طريقو في سبيل الله خير خواهي کولے شي- مثلاً: ❀ مړي له د سُنَّتو مطابق غسل ورکول ❀ کفن اچول ❀ جنازه يــې کول/ جنازه ورکول ❀ دفن کول ❀ د ايصالِ ثواب د اِجتماعاتو انتظام کول ❀ او اِسلامي وروڼو او اِسلامي خوئيندو ته د کفن دفن طريقه هم ښودلے کيږي-

ټولو اِسلامي وروڼو ته خواست دے چې تاسو هم د دې شعبې په ذريعه د مسلمانانو د خير خواهۍ حصه جوړه شئ او د دې سره سره د دعوتِ اِسلامي په 12 دِيني کارونو کښې هم ښه پوره حصه واخلئ، الله پاک دې مونږ ښه ډېر د دِين کار کوونکي او د مسلمانانو خير خواهۍ کوونکي جوړ کړي- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم-

## Muslim's Funeral (د مړي د غسل او کفن دفن) ايپلي کيشن

اے د خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! د ټيکنالوجۍ دور دے، اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د عاشقانِ رسول ديني تحريک دعوتِ اسلامي د جديد ټيکنالوجۍ په ذريعه هم د عِلمِ دين عام کولو کوشش کوي- دې لړ کښې د دعوتِ اسلامي د آئي ټي ډيپارټمنټ له خوا مختلف موبائل ايپلي کيشنز جاري کړے شوي دي، په کومو کښې چې يو موبائل ايپلي کيشن دے: ***Muslim's Funeral*** (کَفَن دَفَن)- په دې موبائل ايپلي کيشن کښې ❀ د مَړي د غُسل او کفن دفن وغيره په باره کښې ډېر اهم معلومات ورکړے شوي دي❀ يوه خاص خبره دا ده چې مَړي له به غُسل څنګه ورکوې؟ ❀ کَفَن به ورته څنګه اچوې؟ د دې د عملي طريقې د پاره ***Animated Videos*** [متحرک ويډيوګانې] هم شامِلې دي- ❀ د دې يو اهم حاصيت دا هم دے چې په دې کښې به تاسو ته د خپل ملک او د ښار د لوئي ذِمه دارانو نمبرې هم ميلاؤېږي د کومو سره چې په رابطه کولو تاسو د کفن دفن في سبيل الله خدمات حاصلولے شئ-

تاسو هم پهٔ خپل موبائل کښې دا ايپلي کيشن انسټال کړئ او نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ۔

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## يو څو ضروري اِعلانات

❁ د هر خالي پهٔ ورځ اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه پهٔ **مَدَني چينل** باندې **لائيو هفته واره مَدَني مذاکره** کوي، د راتلونکې خالي پهٔ ورځ به هم پهٔ مَدَني چينل باندې د ماسخوتن د نمونځ نه پس(تقريباً 30 :8 بجې) اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! هفته واره مَدَني مذاکره کيږي، پهٔ کومه کښې چې به شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت مولانا الياس عطّار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د سوالونو جوابونه هم ورکوي۔ ټول ذِمه داران او عاشقانِ رسول پهٔ دې مَدَني مذاکره کښې پخپله هم شرکت وکړئ او نورو له هم دعوت ورکړئ ❁ شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه هره هفته د يوې **دِيني رسالې** د لوستلو اعلان کوي، پهٔ راتلونکې هفته واره مَدَني مذاکره کښې به **د الله پاک پهٔ لار کښې خوبن څيز ورکول** رسالې اعلان کولے شي۔ دا رساله پخپله هم ولولئ! نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ او څوک چې سوشل ميډيا مثلاً واټس ايپ وغيره استعمالوي هغوئي دې د الله پاک د رضا او د ثواب د پاره دا رساله د نورو سره هم شيئر (***Share***) کړي! ❁ **رَمَضَانُ الْمُبَارَک** پهٔ کوم کښې چې مسلمانان پهٔ روژو نيولو د الله پاک حکم پوره کوي او د الله پاک د رضا د حاصلولو کوشش کوي۔ اميرِ اهلِسُنَّت مولانا محمد اِلياس عطّار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه پهٔ خپل کتاب **فيضانِ رمضان** کښې د دې مياشتې فضيلتونه او اعمال او د روژې مسئلې پهٔ اسان انداز کښې ليکلې دي۔ دا کتاب د هر يو ګس ضرورت دے۔ تاسو هم دا کتاب د مکتبة المدينه د يوې څانګې نه پهٔ **1000 روپۍ** پهٔ بيعه واخلئ يا يې د دعوتِ اِسلامي د ويب سائټ www.dawateislami.net نه مفت ډاؤن لوډ کړئ،

نورو له هم د دې ترغیب ورکړئ۔ ❁ د رَمَضَانُ المُبَارَک په خوشحالۍ کښې د کورونو د ښائسته کولو د پاره مختلف قِسمه لړۍ او د ښکلې ډیزائن پینا فلیکس د مکتبة المدینه نه په بیعه او پینا فلیکس په آرډر باندې حاصل کړئ۔

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د بیان په اخره کښې د سُنّتو فضیلت او د ژوند د یو څو ادابو بیانولو سَعَادت حاصلووم۔ تاجدارِ رسالت، شهنشاهِ نبوت صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِی فَقَدْ اَحَبَّنِی وَمَنْ اَحَبَّنِی کَانَ مَعِی فِی الْجَنَّةِ چا چې زما د سُنّتو سره محبّت وکړو هغهٔ زما سره محبّت وکړو او چا چې زما سره محبّت وکړو هغهٔ به په جَنَّت کښې زما سره وي۔ (1)

سینه تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! | جنَّت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

## د اوبو څښلو سُنَّت او آداب

د آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: د اوښ په شان په یوه ساه کښې څښل مه کوئ بلکې دوه یا درې ځل (د ساه ګانو اخستو سره) څښئ او د څښلو نه مخکښې بِسْمِ الله لولئ او په فارغیدو اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ لولئ!۔ (2)

اے د خوږ نبي صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! که اوبهٔ وي او که د څښلو څهٔ بل څیز ❁ د څښلو نه مخکښې بِسمِ الله لولئ ❁ وړوکے وړوکے ګوټ کوئ، د غټ ګوټ کولو سره د ځیګر بیماري پیدا کیږي ❁ اوبهٔ په دریو ساه ګانو کښې څښئ او په ښي لاس سره یې څښئ ❁ که په لوټه وغیره مو اودس کړے وي نو د هغې نه د پاتې شوو اوبو په څښلو کښې د 70 مرضونو شِفا ده چې دا د آبِ زم زم شریف مشابهت لري، د دې دوؤ (یعني د

---

1...تاریخ دمشق، جلد:9، صفحه:343۔

2...ترمذی، کتاب الاشربة، صفحه:464، حدیث:1885۔

اودس نه د پاتې شوو اوبو او د زم زم شريف) نه علاوه هرې اوبهٔ پهٔ ولاړه څښل مکروه عمل دے، دا دواړه قِسمه اوبهٔ قبلې طرف ته د مخ کولو سره پهٔ ولاړه څښئ ❀ د څښلو نه مخکښې يـې ښه وګورئ چې د څښلو پهٔ څيز کښې څهٔ ضرر رسوونکے څيز خو نشته ❀ د څښلو نه پس اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ لولئ ❀ امام محمد بن محمد بن محمد غزالي رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه فرمائي: د بِسۡمِ الله وئيلو سره پهٔ اوبو څښلو شروع کوئ، د وړومبی ساه پهٔ اخِره کښې اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ د دويمې نه پس اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْن او د دريمې ساه نه پس اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيم لولئ۔ دا يو ښه کار دے، که اونکړے شو نو هم پکښې څهٔ باک نشته او پهٔ شروع کښې د بِسۡمِ الله وئيلو او پهٔ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ سره پهٔ ختمولو به هم سُنَّت ادا شي ❀ پهٔ ګلاس کښې پاتې شوې د مسلمان پاکې جوټه اوبهٔ د استعمال قابل کيدو باوجود هسې نهٔ دي توئي کول پکار ❀ منقول دي: سُؤۡرُ الۡمُؤۡمِنِ شِفَاءٌ يعنې د مسلمان پهٔ جوټه کښې شِفا ده ❀ د څښلو د يو څو سعتونو نه پس چې خالي ګلاس ته وګورئ نو د هغې د اړخونو نه به يو څو څاڅکي پهٔ بيخ کښې جمع شوي وي، هغه هم وڅښئ۔ [1]

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکـتبة الـمدينه د بهارِ شريعت جلد: 3 نه حصه نمبر 16 او د شيخ طريقت، امير اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي دَامَتۡ بَرَكَاتُهُمُ الۡعَالِيَه د 91 صفحو رساله 550 سنّتيں اور آداب واخلئ او اوئې لولئ! د سنتو زده کولو يوه بهترينه ذريعه د دعوتِ اسلامي پهٔ مَدَني قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے۔

مجھ کو جذبہ دے سفر کرتا رہوں پَروَردگار | سنتوں کی تربیت کے قافلے میں بار بار[2]

1...550 سنتیں اور آداب، صفحہ:16۔

2...وسائل بخشش، صفحہ:635۔

**اللّٰه** پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي۔

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم۔

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

### ﴿1﴾ د شَبِ جُمعې [يعنې د جُمعې د شپې] دُرُود

بُزرګانِ دينو فرمائيلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (يعنې د جُمعې او زيارت مينځنئ شپه کښې) دا دُرُود شريف په پابندئ سره کم ازکم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدينه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدار کوي او **قَبْر** کښې د داخليدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه **قَبْر** ته د خپل رَحمت نه په ډکو لاسونو باندې کوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِنِ النَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الْحَبِيْبِ الْعَالِی الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

### ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

د حضرتِ سيِّدُنا انَس رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دے چې تاجدارِ مدينه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو د کښيناستلو نه مخکښې او كه ناست وو نو اودريدلو نه مخکښې به د هغه ګُناهونه مُعاف کړے شي. راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

1 . . . افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة السادسة والخمسون، ص ۱۵۱ ملخصًا

### ﴿3﴾د رَحمت اويا دروازې:

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازې بيرته کړے شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

### ﴿4﴾د شپږ لاکه دُرُودشريف ثواب

حضرت اَحْمَد صَاوِی رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د بَعضو بُزرګانو نه نَقل کوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاکو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[2] راځئ چې په شريکه ئې اُووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللّٰهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

### ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم

يوه ورځ يو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّيقِ اکبر رَضِىَ اللّٰهُ عَنْهُ تر مينځه کښينولو، په دې باندې صَحابَهٔ کرام رَضِىَ اللّٰهُ عَنْهُم حيران شول چې دا څوك ذِی مَرتبه [يعني اوچتې مرتبے والا] دے! چې کله هغه لاړو نو سرکار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چې کله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[3] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰى لَهٗ

---

1...القول البديع، الباب الثانی، ص۲۷۷

2...افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاۃ الثانیۃ والخمسون، ص۱۴۹

3...القول البديع، الباب الاول، ص۱۲۵

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره به زما شفاعت واجب شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيکئ:

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللهُ عَنْهُمَا نه رِوايت دے چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتې د يو زر ورځو پورې نيکئ ليکي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو:

جَزَى اللهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[3] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريکه اووائيو:

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ، سُبْحٰنَ اللهِ
رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

1...الترغيب والترهيب، كتاب الذكر و الدعاء، ٣٢٩/٢، حديث:٣٠
2... مجمع الزوائد، كتاب الادعية، باب فى كيفية الصلاة...الخ، ٢٥٤/١٠، حديث:١٧٣٠٥
3... تاريخ ابنِ عساكر، ١٥٥/١٩، حديث:٤٤١٥